د افغـــانستان اســـلامي امـــارت
د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت
د مساجدو د ارشاد او انسجام عمومي رياست
د جمعې ورځې د خطابت موضوع او
ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو
ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

۲۸/رجب المرجب /۱۴۴۵ هـ، ق موافق د ۲۰ /دلو /۱۴۰۲هـ، ش

# د کورنۍ د غړو د اصلاح لپاره ځانګړي نصيحتونه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدُ لله رب العالمين والصلاةُ والسلامُ على خاتم الأنبياء والمرسلين وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأن محمداً عبدُه ورسولُه، وبعدُ:

کور او کورنۍ د الله تعالی ستر او عظيم نعمت دی؛ ځکه چې کور او کورنۍ د سکون اخيستلو ځای دی، کورنۍ د راحت اخيستلو ځای دی ، د مينې او محبت ځای دی ، په کور او کورنۍ کې د انسان نفس ارام او راحت اخلي، د ګرمۍ او يخنۍ څخه په کې ځان پټوي.کور او کورنۍ هغه ځای دی چيرته چې د انسان ښځه وي، هلته د انسان مور او پلار وي، بچې او اولادونه اوسيږي. د کور د نعمت په اړه الله تعالی فرمايلي دي: (وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمْ مِنْ بُيُوتِكُمْ سَكَنًا وَجَعَلَ لَكُمْ مِنْ جُلُودِ الْأَنْعَامِ بُيُوتًا تَسْتَخِفُّونَهَا يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَيَوْمَ إِقَامَتِكُمْ وَمِنْ أَصْوَافِهَا وَأَوْبَارِهَا وَأَشْعَارِهَا أَثَاثًا وَمَتَاعًا إِلَى حِينٍ) [النحل: ۸۰].

ترجمه: او الله تاسو لپاره ستاسو له کورونو نه د استوګنې ځايونه جوړ کړي دي او تاسو لپاره يې د څارويو له څرمنو نه کورونه جوړ کړي دي چې تاسو يې د خپل سفر په ورځ سپک مومئ او د اقامت په ورځ هم او د هغو له وړيو او د هغو له وېښتانو او د هغو له وژغنو نه يې اسبابونه او تر يو وخته پورې د نفعې سامانونه (جوړ کړي دي)

امام ابن کثير ددې آيت په تفسير کې ليکي: (يذكر تبارك وتعالى تمام نعمه على عبيده، بما جعل لهم من البيوت التي هي سكن لهم، يأوون إليها، ويستترون بها، وينتفعون بها سائر وجوه الانتفاع). تفسير ابن كثير(٤/ ٥٩١)

ترجمه:الله تبارک وتعالی خپل ټول نعمتونه په خپلو بندګانو ذکر کوي چې ګرځولي يې دي ددوی لپاره کورونه هغه چې ددوی لپاره د سکون ځای دی،رجوع کوي دوی کورونو ته او ځانونه پټوي په کورونوسره او له کورونو مختلف قسم نفع او فائده اخلي.

د کور اوکورنۍ د نعمت قدر هغه وخت انسان ښه درک کولی شي چې کله مسافر وي او يا له کورونو څخه شړل شوي وي او مهاجر وي

دا چې کور د مسلمان لومړی سنګر دی د اسلام مبارک دين د کورنۍ د غړو اصلاح ته زياته توجه کړی ده ځکه چې کورنۍ داسلام اساسي قلعه ده او کورنۍ د اسلامي ټولنې د بنياد لومړنۍ ښخته ده هرڅومره چې ددې آبادی ښخته مضبوطه وي په هماغه اندازه به دا عمارت مضبوط او قوي وي او هرڅومره چې د عمارت د تهداب ښخته کمزورې او سسته وي په هماغه اندازه به عمارت کمزورۍ او ضعيفه وي.

مسلمانه کورنۍ هغه لومړني مدرسه ده چې له دې مدرسې څخه ټولنې ته فعاله اشخاص وړاندې کيږي، له مسلمانې کورنۍ څخه ټولنې ته قوي سياست مداران، راسخه علماء، عادل قاضيان، مؤثر روزونکي، د الله تعالی د لارې رېښتوني دعوتګر، د جهاد سر لښکري، مجاهدين او غازيان وړاندې کيږي.

د اسلامي سپیځلي دین د کورني د غړو د اصلاح لپاره زیات کوښښ کړی دی،ځکه چې د کورنی د غړو اصلاح د ټولنې اصلاح ده او د کورنی د غړو فساد د ټولنې د غړو فساد دی، ټولنه د کورنیو څخه جوړیږي که چیرې کورنی صالحه وي نو هغه ټولنه به هم صالحه وي او که چیرې کورنی فاسده او بدبخته وي هغه ټولنه به هم فساده او بدبخته وي.

نیکبخته ټولنې د نیکبختې کورنیو څخه تشکلیږي او بدبخته ټولنې د بدبختو کورنیو څخه تشکلیږي.

مونږ دوه ډوله کورنی لرو : صالحه ، نیک عمله ، الله تعالی ته نږدې او د الله تعالی خوښه کورنی ، هغه کورنی چې د الله تعالی په خوښه ژوند تیروي او بله هغه کورنی چې بدعمله وي، د الله تعالی څخه لری وي ، الله تعالی ته خوښې نه وي او د الله تعالی په نافرمانی کې ژوند تیروي او د ټولو بدبختیو ژاله وي.

په اسلام کې دکورنی دغړو اصلاح ولې دومره زیاته مهمه ده؟

۱-په اسلام کې د کورنی د غړو اصلاح ځکه مهمه ده چې د ځان او د کور دغړو حفاظت له جهنم څخه فرض دی . الله تعالی فرمایلي دی:{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا}[التحريم:٦].

ترجمه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو خپل ځانونه او خپل اهل له داسې اور نه بچ وساتئ

۲-د کورنی د غړو اصلاح دالله جل جلاله په وړاندې لوی مسئولیت دی.په حدیث شریف کې راځي: (إنّ الله تعالى سائلٌ كلَّ راعٍ عمَّا استرعاهُ أحَفِظَ ذلك أم ضَيَّعهُ، حتى يَسألَ الرجلَ عن أهلِ بيتِه) سنن النسائي (٥/ ٣٧٤)

ترجمه: بیشکه الله پوښتنه کوونکی دی د هر مسئول څخه په باره د هغه چا کې چې دده رعیت یې گرځولی ؤ چې آیا د هغوی حفاظت یې کړی دی او که هغوی یې ضائع کړي دي آن تر دې پورې چې پوښتنه به وکړي د سړي څخه په باره د ده د کورنی کې.

۳-په اسلام کې د کورنی د غړو اصلاح ځکه مهمه ده چې د کورنی د غړو حفاظت له فتنو څخه لازم دی.

۴-د کورنی په غړو اهتمام په حقیقت کې د اسلامي ټولنې په اصلاح باندې اهتمام دی، دا ځکه چې د کورنی غړي د اسلامي ټولنې فعاله غړي دي.

څوک چې غواړي چې د د کورنی غړي یې صالحه او نیکه عمله وي وربادې لازم دي چې په لاندې نصیحتونو عمل وکړي:

۱-نصیحت: متدینه او دینداره ښځه د نکاح لپاره انتخاب کړه: صالحه او دینداره ښځه د کورنی د غړو د اصلاح مهم عامل دی ځکه چې صالحه ښځه د خاوند سره د بچو په سالمه تربیه کې پوره برخه اخلي او په نتیجه کې د کورنی غړي نیک عمله او صالحه لوییږي.(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ)؛ متفق علیه

ترجمه: دابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: عادتا نکاح کیږي ښځې دڅلورو خبرو لپاره د هغې د مال په خاطر، د هغې د حسب په خاطر، د هغې د ښایست په خاطر او هغې د دین په خاطر نو کامیابي حاصله کړه په دینداره ښځه په خاورو دې ککړشي ستا دواړه لاسونه.

د امام مسلم په روايت کې راځي :(عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ الدُّنْيَا مَتَاعٌ وَخَيْرُ مَتَاعِ الدُّنْيَا الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ). صحيح مسلم (٤/ ١٧٨)

ترجمه: د عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: دنیا متاع ده او بهتره متاع ددنیا صالحه ښځه ده.

د صالح سړي او صالحه ښځې په ملګرتیا سره د کورنۍ د غړو اصلاح ممکنه ده.

خو که چیرې څوک ضعیف الایمان ښځه په نکاح کړي نو په خاوند لازم دی چې د خپلې ښځې په اصلاح کې کوښښ وکړي ، کوښښ دې وکړي چې د هغې دلمانځه خلاګانې درست کړي او د واجباتو او نوافلو په باره کې ورته ترغیب ورکړي او کوښښ دې وکړي چې د هر محل او هر حال ذکرونه ورته یاد کړي او د نیکو اعمالو په کولو باندې ورته ترغیب ورکړي. کولای شي چې د خپلې ښځې د اصلاح لپاره مناسب کتابونه ورته راوړي او یا ورته مؤثره کیسټې راوړي ترڅو ورڅخه استفاده وکړي.

۲-نصیحت: د کورنۍ د غړو اصلاح په ایماني اعمالو سره وکړه: د کورنۍ د غړو د اصلاح بهترینه لار داده چې ددوی روزنه په ایماني اعمالو سره وشي او دا تربیه هغه وخت زیاته مؤثره وي چې د کور مشر او مشران د ایماني اعمالو په کولو کې د پیشوا او د رهنما کردار ادا کړي او د کور د غړو سره د ایماني اعمالو په کولو کې مرسته وکړي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم چې لومړنۍ روزونکی ؤ ، خپله د قدوه حسنه په حیث پاڅیده او لومړی به یې د تهجدو لمونځ وکړ او د کور غړو ته به یې ددې ترغیب ورکولو او هغوی به لمانځه ته پاڅولی.

په حدیث کې راځي:( عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يُصَلِّى مِنَ اللَّيْلِ فَإِذَا أَوْتَرَ قَالَ: قُومِى فَأَوْتِرِى يَا عَائِشَةُ ). صحیح مسلم (۲/ ۱۶۸)

ترجمه: د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی هغه وایي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا عادت ؤ چې د شپې به لمونځ کولو( تهجد) کله به یې چې وتر لمونځ وکړ نو وبه ویل: پاڅه ای عائشې ! وتر لمونځ وکړه.
په یو بل حدیث شریف کې راځي: نبي علیه السلام فرمایلي دي :( عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ: رَحِمَ اللَّهُ رَجُلاً قَامَ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّى وَأَيْقَظَ امْرَأَتَهُ فَصَلَّتْ فَإِنْ أَبَتْ نَضَحَ فِى وَجْهِهَا الْمَاءَ رَحِمَ اللَّهُ امْرَأَةً قَامَتْ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّتْ وَأَيْقَظَتْ زَوْجَهَا فَإِنْ أَبَى نَضَحَتْ فِى وَجْهِهِ الْمَاءَ ). سنن أبى داود-ن (۱/ ۵۴۳)

ترجمه:د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي علیه السلام فرمایلي دي: الله تعالی دې رحم وکړي په هغه سړي چې پاڅي د شپې او بیا لمونځ وکړي(تهجد) بیا پاڅوي خپله ښځه هغه هم لمونځ وکوي که چیرې ( په پاڅید کې) انکار یې کولو نو وپاشي په مخ دهغې باندې اوبه. رحم دې وکړي په هغه ښځه چې د شپې پاڅیږي( تهجدو ته) بیا لمونځ وکړي او پاڅوي خپل خاوند او که چیرې یې انکار کولو وپاشي په مخ دهغه باندې اوبه.

د کور په مشر مور او پلار لازم دي چې د کورنۍ غړي په پنځه وخته فرضي لمانځه ته وهڅوي او خپلو اولادونو ته د لمانځه حکم وکړي او نارینه وو ته مسجد ته د لمانځه لپاره په تللو امر وکړي. الله تعالی فرمایلي دي:( وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ) [طه: ۱۳۲].

ترجمه: په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی د اسماعیل علیه السلام صفت کوي چې هغه به خپلې کورنۍ ته په لمانځه باندې امر کولو. (وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ وَكَانَ عِندَ رَبِّهِ مَرْضِيًّا) [مریم:۵۵].

ترجمه: او ده به خپل اهل ته د لمانځه او زکات حکم کاوه او دی د خپل رب په نیز پسندیده ؤ.

په حدیث شریف کې راځي عن عمرو ابن شعیب عن أبیه عن جده: أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: مُرُوا أَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِينَ، وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرٍ، وَفَرِّقُوا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ).سنن أبى داود- (۱ /۱۸۵)

ترجمه: عمرو بن شعیب د خپل پلار څخه او د هغه پلار د خپل پلار څخه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي امر وکړئ خپل اولاد ته په لمانځه باندې کله چې دوی اوه کلن وي او وه یې وهئ په لمانځه باندې کله چې هغوی لس کلن شي او جدا کړئ دوی یو له بل څخه د ویده کیدو په ځای کې.

د کور ښځو ته د صدقاتو ورکولو ترغیب ورکوه ځکه دا ایمان زیاتوي او دا ډیر لوی عمل دی، نبي علیه السلام یې په اړه هڅونه کړې ده. یو ځل پیغمبر علیه السلام وفرمایل: ( يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ تَصَدَّقْنَ فَإِنِّي رَأَيْتُكُنَّ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ). صحيح البخاري (٣/ ٥٠٦)

ترجمه: ای د ښځو ټولیه!صدقه ورکوئ بیشکه ما ولیدل(د معراج په شپه کې) ستاسې زیات د اور خاوندان .

کله چې د ایام البیض ورځې راشي ، یا دوشنبې ورځ شي یا د پنجشنبې ورځ راشي ، یا د عاشوراء ورځ راشي او یا د عرفې ورځې راشي، نو خپله هم روژه ونیسه او هغوی ته هم ددې ورځو د روژو نیولو ترغیب ورکړه.

-همدا راز د کورنۍ د غړو اصلاح په اذکارو سره کول. په کارده چې د کور مشر، پلار او مور د کورنۍ د غړو په اذکارو اهتمام وکړي لکه کور ته د ننوتلو اذکار ویل. په حدیث شریف کې راځي: (عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ: إِذَا دَخَلَ الرَّجُلُ بَيْتَهُ فَذَكَرَ اللَّهَ عِنْدَ دُخُولِهِ وَعِنْدَ طَعَامِهِ قَالَ الشَّيْطَانُ لاَ مَبِيتَ لَكُمْ وَلاَ عَشَاءَ. وَإِذَا دَخَلَ فَلَمْ يَذْكُرِ اللَّهَ عِنْدَ دُخُولِهِ قَالَ الشَّيْطَانُ أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ. وَإِذَا لَمْ يَذْكُرِ اللَّهَ عِنْدَ طَعَامِهِ قَالَ أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ وَالْعَشَاءَ). صحيح مسلم (٦/ ١٠٨)

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی چې هغه د پیغمبر علیه السلام څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: کله چې سړی خپل کورته داخل شي او د داخلیدو پر وخت او د خوراک پر وخت یې الله تعالی یاد کړ(یعني دعاء ولوستله) شیطان وایي (ملګرو ته) دلته ستاسو لپاره نه د شپې ځای شته او نه خوراک شته او څوک چې کورته داخل شي او دداخلیدو پروخت الله تعالی یاد نکړي( دعاء ونه وایي) شیطان ووایي ( خپلو ملګرو ته) پیدا مو کړ د شپې تیرولو ځای او کله چې د خوراک پر وخت الله تعالی یاد نکړي(یعني دعاء ونه لولي) شیطان ووایي(ملګرو ته) پیدا مو کړ د شپې ځای او خوراک.
-له کور څخه د وتلو پر اذکارو اهتمام کول: په حدیث شریف کې راځي:(عن أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا خَرَجَ الرَّجُلُ مِنْ بَيْتِهِ فَقَالَ بِسْمِ اللَّهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ قَالَ يُقَالُ حِينَئِذٍ هُدِيتَ وَكُفِيتَ وَوُقِيتَ فَتَتَنَحَّى لَهُ الشَّيَاطِينُ). رواه أبو داود والترمذي
ترجمه: د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې وځي سړی د خپل کور څخه او دا یې وویله (بسم الله توکلت على الله لاحول ولا قوة الا بالله ) راوي وایي په دغه وخت ورته وویل شي : سمه لار دې وموندله او کافي شوی ( خپلو مرامونو لره) او وساتل شوی له دښمنانو ، نو لرې شي ور څخه شیطانان.
-د مسواک په استعمالولو اهتمام کول. په حدیث شریف کې راځي:(عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ إِذَا دَخَلَ بَيْتَهُ بَدَأَ بِالسِّوَاكِ.).صحيح مسلم (١ /١٥٢)

ترجمه: د عائشې رضی الله عنها څخه روایت دی هغه وایي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم به چې کله کور ته داخل شو د مسواک په وهلو به یې پیل وکړ.
٣-نصیحت: د کورنۍ د غړو تعلیم او تربیې ته توجه وکړئ او ددوی په دیني زدکړې اهتمام وکړئ.
د کور خلکو ته تعلیم ورکول یوه فریضه ده باید د کور مالک ددې اهتمام وکړي ، ځکه الله تعالی فرمایلي دي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَاراً وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلائِكَةٌ غِلاظٌ شِدَادٌ لا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ) التحريم: (٦)
ترجمه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو خپل ځانونه او خپل اهل له داسې اور نه بچ وساتئ چې د هغه خشاك خلق او كاڼي دي، په ده باندې ډېر سخت خویه، قوتناك ملایك مقرر دي، چې دوی په هغه څه کې د الله نافرمانۍ نه کوي چې دوی ته یې حکم کړی وي او دوی هغه څه کوي چې دوی ته یې حکم کولی شي.

دا آیت د کورنۍ د غړو د تربیت او هغوی ته زده کړې ورکولو او هغوی ته د نیکۍ حکم کولو او له بدۍ څخه په منع کولو کې نازل شوی دی. په دې اړه د لاندې مفسرینو تشریحات رانقلوو:

امام قتاده رحمه الله فرمایې: د کور مالک به د کور خلکو ته د الله د طاعت حکم کوي او دهغه د نافرمانۍ نه به یې منع کوي او هغوی سره به ددین په کارونو کې مدد کوي.

امام ضحاک او امام مقاتل فرمایې: په هر مسلمان باندې لازم دي چې خپلوانو ته د هغه څه تعلیم ورکړي چې الله پرې حکم کړی دی یایې ترې هغه منع کړې ده او حضرت علي رضي الله عنه ددې ایت په تفسیر کې فرمایې: (دوی ته تعلیم او ادب ورکړئ).

امام طبري فرمایې مونږ له پکار دي چې خپلو اولادونو ته او کورنۍ ته ددین او خیر تعلیم ورکړو او هغه ضروري ادب ورته وښاییو چې د هغې نه یې چاره نشته.

او کله چې رسول الله ﷺ د غلامانو او وینزو د تعلیم ترغیب ورکړی دی؛ نو د ستا اولاد او اهل خو په دې ترغیب کې په طریق اولی سره داخلیږي.

امام بخاري رحمه الله په خپل صحیح کې باب جوړ کړی دی:(باب تعلیم الرجل أمته وأهله) بیا یې په باب کې د نبي علیه السلام دا حدیث ذکر کړی دی:(عن أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ لَهُمْ أَجْرَانِ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ آمَنَ بِنَبِيِّهِ وَآمَنَ بِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْعَبْدُ الْمَمْلُوكُ إِذَا أَدَّى حَقَّ اللَّهِ وَحَقَّ مَوَالِيهِ وَرَجُلٌ كَانَتْ عِنْدَهُ أَمَةٌ فَأَدَّبَهَا فَأَحْسَنَ تَأْدِيبَهَا وَعَلَّمَهَا فَأَحْسَنَ تَعْلِيمَهَا ثُمَّ أَعْتَقَهَا فَتَزَوَّجَهَا فَلَهُ أَجْرَانِ).صحیح البخاري (۱/ ۱۰۱)

ترجمه: ابو برده د خپل پلار څخه روایت کوي، هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: درې کسان دي چې دوی لره دوه اجرونه دي یو هغه سړی دی د اهل کتابو نه چې په خپل پیغمبر یې ایمان راوړي وي او بیا پر محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ایمان راوړي، بل هغه غلام دی کله چې دالله تعالی حق او د خپل بادارانو حق اداء کړي او بل هغه سړی دی چې د هغه سره وینزه وي هغې ته ادب ور کړي او ښه ادب ورکړي او هغې ته تعلیم ورکړي ښایسته تعلیم بیایي آزاده کړي او بیایي په نکاح کړي نو ده لره دوه اجرونه دي.

امام ابن حجر ددې حدیث په شرح کې وایې: آزاد اهل او اولاد ته د الله دفرایضو او درسول الله دسنتو تعلیم او تربیت ورکول د وینزو د تعلیم نه ډیر ضروري دي.(فتح الباری)

۴-نصیحت: د کورنۍ د زنانه ؤ د حال او لباس څارنه کول لازم دي. د کور په مشر ، مور او پلار لازم دي چې د کور زنانه وو په حالاتو باندې نظر وساتي، د هغوی پرته له حاجته د کور څخه د وتلو مخه ونیسي ، د هغوی د لباس خیال وساتي اکثره زنانه داسې لباسونه جوړوي او په تن کوي چې هغه نیم لوڅ وي او په دغسې لباسونو کې له کورونو څخه وځي او په مناسبتونو کې برخه اخلي . د کور سرپرست باید دوی ددغه ډول لباس څخه منع کړي ترڅو د زنانه وو ددې اړخ اصلاح وشي.ځکه دا د سړیو مسئولیت دی . الله تعالی فرمایلي دي.(الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ) [النساء: ٣٤].

ترجمه: سړي په ښځو باندې نګرانان دي.

په حديث شريف کې راځي: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- : صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُونَ بِهَا النَّاسَ وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيلاَتٌ مَائِلاَتٌ رُءُوسُهُنَّ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ لاَ يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ وَلاَ يَجِدْنَ رِيحَهَا وَإِنَّ رِيحَهَا لَيُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ كَذَا وَكَذَا ). صحيح مسلم(٦ /١٦٨)

ترجمه: د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي دوه ډلی د جهنم خلک دي خو ما نه دي ليدلي. يو هغه قوم دی چې د هغوی سره به قمچينې وي په شان د آسونو د لکيو په څېر خلک به وربانديې وهي او بل ښځې به وي چې پټې به وي خو په حقيقت کې بربنډې به وي پردو سړيو ته به ميلان کوونکي وي او نور خلک به ځان ته را مائل کوي سرونه به يې داسې وي لکه د بختي اوښ کوب چې مائل وي داخلې به نشي جنت ته او نه به يې بوی ، بويه کړي او بيشکه د جنت بوی خامخا حس کيږي په اندازه د سلو کلونو څخه فاصله کې .قرطبی وايي له پنځه سوه کلونو څخه.

٥-له کور څخه فتنه گر وسائل ويستل او لری کول.بايد دکورنۍ د غړو داصلاح په موخه له کور څخه هغه وسائل وويستل شي چې بې حيايي، بې پرده گي، لوڅ او نيمه لوڅ فيلمونه او عکسونه او غير اخلاقي سريالونه خپروي لکه تې وي، وی سي آر او داسې نور. د کورنۍ د غړو اصلاح هغه وخت ممکن ده چې منکرات او د فتنې اسباب له کوره وويستل شي، ځکه الله تعالی کاميابي د لغو کارونو څخه په پرهيز پورې مشروطه کړی ده. الله تعالی فرمايي: (وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ)المؤمنون: (٣)

ترجمه: او هغه کسان چې دوی له لغو (خبرو او کارونو) نه مخ گرځوونکي دي.

همدا راز د کور مشران بايد په تيلفون او مبائل تيلفون په استعمال باندې نظارت ولري؛ ځکه چې دا هغه وسائل دي چې په ښو او بدو دواړو کارونو کې استعماليږي ، د ځوانانو وخت ضائع کوي، ناوړه او لوڅ فلمونه او پروگرامونه لري او د نوي نسل د تباه کولو لپاره ډول ډول پروگرامونه په کې شته. د کورنۍ د سرپرست دنده ده چې د ځوانانو د مبائل تيلفون څارنه وکړي .

همدا راز له کور څخه بايد د انسانانو او حيواناتو انځورونه او تصويرونه ، د بتانو اشکال او د صليب شکلونه وويستل شي او هغه مات او محوه شي . په حديث شريف کې راځي: (عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ أَبِي الْهَيَّاجِ قَالَ قَالَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَلَا أَبْعَثُكَ عَلَى مَا بَعَثَنِي عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَدَعَنَّ قَبْرًا مُشْرِفًا إِلَّا سَوَّيْتَهُ وَلَا صُورَةً فِي بَيْتٍ إِلَّا طَمَسْتَهَا). النسائي (٤ /٨٨)

وفي رواية لمسلم:( أَنْ لاَ تَدَعَ تِمْثَالاً إِلاَّ طَمَسْتَهُ).

ترجمه: ابو وائل د ابو الهياج څخه روايت کوي ،هغه وايي چې ماته علي رضي الله عنه وويل: آيا زه تا په کار پسې ونه ليږم په کوم کار پسې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ليږلی وم؟ مه پريږده قبر اوچت مگر داچې هغه به هواروې له ځمکې سره او نه به پريږدۍ تصوير په کور کې مگر داچې هغه به محوه کوۍ. او د مسلم په روايت کې راځي چې( نه به پريږدۍ بت مگر محوه کوۍ به يې.

٦-نصيحت: د کورنۍ د غړو ترمنځ د وحدت ، يووالی او يو له بل سره د همکارۍ روحيه تقويه شي.

دا د کور د مشرانو ، مور او پلار وظيفه ده چې د کورنۍ د غړو ترمنځ د صميميت، محبت، متقابل احترام ، په کارونو کې يو له بل سره د همکارۍ فضاء رامنځ ته کړي ترڅو کورنۍ له بې اتفاقۍ ، جنگ جگړو، بدبينۍ او کينې څخه وساتل شي او د کورنۍ غړي د لويانو احترام وکړي او پر کشرانو شفقت وکړي. ځکه بې اتفاقي او کينه او بدبينۍ کورنۍ منحل کوي او يو له بل څخه يې جدا کوي او د کورنۍ غړي سره ويشي. بايد د شيطان دفعاليت مخه بنده شي.( وَقُل لِّعِبَادِي يَقُولُواْ الَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنزَغُ بَيْنَهُمْ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلإِنْسَانِ عَدُوًّا مُّبِينًا). [الإسراء: ٥٣].

ترجمه: ووایه زما بندګانو ته چې ووایئ هغه خبره چې هغه غوره ده، بېشکه شیطان د دوی په مینځ کې دښمني اچوي، بېشکه شیطان د انسان لپاره له شروع نه ښکاره دښمن دی

په حدیث شریف کې راځي: (عائشة رضي الله عنها: أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: إِنَّ اللَّهَ إِذَا أَرَادَ بِأَهْلِ بَيْتٍ خَيْرًا، دَلَّهُمْ عَلَى بَابِ الرِّفْقِ). مسند احمد

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې نبي علیه السلام فرمایلي دي بیشکه الله تعالی چې کله د یو کور اهل ته د خیر اراده وکړي دوی ته لارښوونه وکړي د مهربانی په باب باندې .

خپل اولاد باید په ښو خبرو، نرمو خبرو تربیه شي او د قبیحه الفاظو کارولو څخه وساتل شي.

٧-نصیحت: کورته باید پر ښځو باندې اجنبي خلک ور داخل نشي. د کورنی د غړو اصلاح هغه وخت ممکن ده چې په شرعي حکمونو او الهي اوامرو عمل وشي او هغه په ځان او کور کې تطبیق شي، په دې سره د کورنی غړي اصــلاح کیږي او په هغه کور کې تل خوښي او خوشحالي موجود وي.

د شرعي حکمونو څخه یو حکم دادی چې په کورنی کې د حجاب او ستر حکم عملي شي او غیر محرم سړی پری نه ښودل شي چې کورته پر ښځو باندې ور داخل شي. په حدیث شریف کې راځي:(إِيَّاكُمْ وَالدُّخُولَ عَلَى النِّسَاءِ، فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَفَرَأَيْتَ الْحَمْوَ؟ قَالَ: الْحَمْوُ الْمَوْتُ. صحيح البخاري (١٣ /٢٠٨)

ترجمه: ځانونه وساتئ دداخلیدلو څخه په ښځو باندې . یو سړي وویل د انصارو څخه ای د الله رسوله! خبر مې کړه دداخلیدو د خاوند د اقاربو په اړه لکه لیور! نبي علیه السلام وفرمایل: دخاوند اقارب لکه لیور مرګ دی.

متأسفانه چې نن صبا د کورنیو د زیارت پر وخت او د خپلوانو د پوښتنې پروخت دا شرعي حکم نه مراعت کیږي چې دا کار د کورنیٔد فساد لامل کیږي.

همدا راز ښځې لره جائز نه دي چې کور ته هغه څوک داخل کړي چې دهغې خاوند یي بد ګڼي. په حدیث شریف کې راځي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د حجة الوداع د خطبې په یوه برخه کې وفرمایل: (فَأَمَّا حَقُّكُمْ عَلَى نِسَائِكُمْ، فَلاَ يُوطِئْنَ فُرُشَكُمْ مَنْ تَكْرَهُونَ، وَلاَ يَأْذَنَّ فِي بُيُوتِكُمْ لِمَنْ تَكْرَهُونَ) سنن الترمذي

ترجمه: هرچه ستاسو حق دی ستاسو په ښځو باندې نو پښه دې نه ږدي په فرش ستاسې باندې هغه څوک چې تاسو یې بد ګنی او اجازه دې نه ورکوي بل چا ته ددې خبرې چې داخل شي ستاسو کورونو ته هغه چاته چې تاسو یې بدګنی.

٨- نصیحت: د ناکاره اخلاقو سره مبارزه وکړئ. که چیرې په کور کې د کور د غړو له کوم کس څخه ناکاره اخلاق صادر شي دهغې مخنیوی وکړئ، ترڅو داناکاره اخلاق عادت ونه ګرځي. قالت عائشةُ رضي الله عنها: (كانَ رسول الله إذا اطّلع على أحدٍ من أهل بيته كذبَ كذبةً لم يزلْ معُرضاً عنه حتى يُحدِثَ توبةً). الفتح الكبير في ضم الزيادة إلى الجامع الصغير(٢ /٣٢٦)

ترجمه: عائشه رضي الله عنها فرمايي د نبي علیه السلام دا عادت ؤ چې کله به خبر شو په یو کس باندې د خپل کور د غړو څخه چې څه دروغ به یې وویل ، تل به یې له هغه څخه مخ ترهغې اړولو ترڅو چې وبه یې ویستله توبه.

په یو بل حدیث شریف کې راځي : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:عَلِّقُوا السَّوْطَ حَيْثُ يَرَاهُ أَهْلُ الْبَيْتِ، فَإِنَّهُ لَهُمْ أَدَبٌ). المعجم الكبير للطبراني (٩/ ١٥٣)

ترجمه: د عبدالله ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي زوړنده کړئ قمچینه په هغه ځای کې چې دکور غړي یي ویني، ځکه دا ددوی لپاره ادب دی.

۹-نصیحت: د نیکانو او صالحو خلکو په ګاونډ کې اوسیدل غوره کړئ. مسلمان ته کوښښ په کار دی چې د نیکانو او صالحه خلکو په ګاونډ کې اوسیدل غوره کړي او کوښښ په کار دی چې د اوسیدلو ځای مسجد ته نږدې وي او فسق او فاسقانو له ګاونډ څخه لرې وي ، ځکه چې نیکان ګاونډیان د کورنۍ د غړو په اصلاح کې مهم رول لوبوي .

په حدیث شریف کې راځي:(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ: الرَّجُلُ عَلَى دِينِ خَلِيلِهِ فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلُ). سنن أبى داود-ن (٤ /٤٠٧)

ترجمه: د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي علیه السلام فرمایلي دي سړی په دین د ملګري دی ، نو ودې ګوري یو د ستاسې څخه چې له چا سره ملګرتیا کوي.

۱۰-نصیحت: د اولادونو مراقبت او څارنه وکړئ. د اولادونو خصوصا دمراهق اولاد د ملګرو په اړه معلومات کول ضروري دي ځکه چې په معاشره کې هر ډول خلک ژوند کوي . که چیرې د اولاد ملګرتیا د ناکاره او بدو خلکو سره وي ، ددې امکان زیات دی چې اولاد به مو فاسد شي، ځکه ملګرتیا د انسان په کردار او عمل باندې اثر پرې باسي. په حدیث کې راځي:( وَمَثَلُ الْجَلِيسِ الصَّالِحِ كَمَثَلِ صَاحِبِ الْمِسْكِ إِنْ لَمْ يُصِبْكَ مِنْهُ شَىْءٌ أَصَابَكَ مِنْ رِيحِهِ وَمَثَلُ جَلِيسِ السُّوءِ كَمَثَلِ صَاحِبِ الْكِيرِ إِنْ لَمْ يُصِبْكَ مِنْ سَوَادِهِ أَصَابَكَ مِنْ دُخَانِهِ). سنن أبى داود-ن (٤ /٤٠٦)

ترجمه: او مثال د صالح ملګري په شان د مشکو دی که چیرې تاته ورڅخه کوم شی ونه رسیږي نو رسیږي درته د هغې بوی او مثال د بد ملګري په شان د نغري د اهنګر دی که چیرې د هغې توروالی درته ونه رسیږي نو د رسیږي درته د هغې لوږی.

۱۱-نصیحت: مور او پلار باید د کورنۍ د غړو څخه خپل اختلافات پټ وساتي. په کور کې حتما د ښځې اوخاوند ترمنځ اختلاف نظر او یا خپګان پیداکیږي، مور او پلار ته په کار دي چې خپلمنځي اختلافات د کورنۍ د غړو څخه پټ وساتي.

۱۲-کور دالله تعالی د ذکر ځای وګرځوئ. په کارده چې کور د الله تعالی د ذکر څخه خالي نشي، او د کورنۍ غړي باید د الله تعالی نوم په کې تازه وساتي ، برابره خبره ده چې هغه قلبی ذکر وي، لساني ذکر وي ، لمونځونه وي ، د قرآن کریم تلاوت وي . په حدیث شریف کې راځي: (عَنْ أَبِى بُرْدَةَ عَنْ أَبِى مُوسَى عَنِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ :مَثَلُ الْبَيْتِ الَّذِى يُذْكَرُ اللَّهُ فِيهِ وَالْبَيْتِ الَّذِى لاَ يُذْكَرُ اللَّهُ فِيهِ مَثَلُ الْحَىِّ وَالْمَيِّتِ ). صحيح مسلم (٢/ ١٨٨)

ترجمه: د ابو برده د ابو موسی رضي الله عنه څخه روایت نقل کوي او هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: مثال دهغه کور چې د الله ذکر په کې کیږي او مثال دهغه کور چې د الله تعالی ذکر په کې نه کیږي په شان د ژوندي او مړي دی. یعنې په کوم کور کې چې ذکر کیږي هغه په مثال د ژوندي دی او په هغه کور کې چې ذکر نه کیږي په شان د مړي دی.

۱۳-د خپلو کورنو څخه قبله جوړه کړئ. ددې خبرې څخه مطلب دادی چې په کور کې یوځای د عبادت لپاره ځانګړی کړئ، ترڅو د کور زنانه او ماشـومان په کې لمونځونه وکړي . الله تعالي فرمایلي دي: (وَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ مُوسَىٰ وَأَخِيهِ أَن تَبَوَّءَا لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُيُوتًا وَاجْعَلُواْ بُيُوتَكُمْ قِبْلَةً وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ). یونس: (۸۷)

ترجمه: او مونږ موسی-علیه السلام- او د هغه ورور ته وحي وکړه دا چې تاسو د خپل قوم لپاره په مصر کې څه کوټې مقررې کړئ او خپلې کوټې قبله وګرځوئ او تاسو لمونځ قایموئ او ته مومنانو ته زیری ورکړه

ابن عباس رضي الله عنه فرمایي: دوی ته امر شوی ؤ چې په کورونو کې مسجدونه جوړ کړي.